د پوهنې وزارت


د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معینیت

د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف عمومي ریاست

# هنر

A R T

## اتم ټولګی




Ketabton.com



درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري،
په بازار کې یې اخیستل او خرڅول په کلکه منع دي.
له سرغړوونکو سره قانوني چلند کېږي.

ISBN 978-9936-25-035-2

**د پوهنې وزارت**

د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د
روزنې او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# هنر

# ART

## اتم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ. ش.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## مؤلفان:

سیدانور میچنخیل دهنرونو د دیپارتمنت علمي غړی
محمد غالب الله یار د هنرونو د دیپارتمنت آمر

## علمی او مسلکي اډیټ:

سید انومیچنخیل،دهنرونو د دیپارتمنت علمي غړی
پوهنمل عبدالحی فرحمند د هنرونو د پوهنځي استاد

## د ژبې او ادبیاتو اډیټوران

عبد الحی (هاشمي) د علومو اکاډومی علمي غړی
مولف محمد سهراب دیدار

## د پوهنې وزارت:

غلام محمد راهي د هنر د مضمون ښوونکی
عاطفه شبنم عارفي د هنر ښوونکې

## دیني، سیاسي او فرهنگي کمېټه:

- مولوي عبدالصبور عربي
- دکتور محمد یوسف نیازی
- حبیب الله راحل د پوهنې وزارت سلاکار د تعلیمي نصاب د پراختیا په ریاست کې

## د څارنې کمېټه:

- دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معین
- دکتور شېرعلي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې مسؤول
- د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر گلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس

## دیزاین

رحمت الله غفاري



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library







## ملي سرود

دا وطن افغانستـــان دی — دا عزت د هــر افــغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی يې قهرمـــان دی
دا وطن د ټولو کـور دی — د بـــلوڅـــو د ازبکـــو
د پښتـــون او هزاره وو — د تـــرکمنـــو د تاجکـــو
ورسره عرب، گوجـر دي — پـــاميـريان، نورستانيـــان
براهوي دي، قزلباش دي — هـــم ايمـــاق، هم پشه يان
دا هيـــواد به تل ځليږي — لـــکــه لمــر پر شنه اسمان
په سينـــه کې د اسيــا به — لـــکــه زړه وي جـاويدان
نوم د حق مو دی رهبـــر — وايو الله اکبر وايو الله اکبر



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

## د پوهنې د وزیر پیغام

**ګرانو ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د معاصر علمي پرمختګ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کېږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښایي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتیب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زیاتې شوې دي. د زده‌کړې په بهیر کې د زده‌کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه ګرځېدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده‌کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده‌کوونکو میندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې بریاوې ور په برخه کړي.

پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې خپل مسؤولیت په ریښتوني توګه سرته رسوي.

د پوهنې وزارت تل زیار کاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو، دوطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتیاوو له مخې پراختیا ومومي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له میندو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تالیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې د دې کتاب په چمتو کولو او ترتیب کې یې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو مؤسسو او نورو دوستو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو، تدوین او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې یې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردګ


د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر



(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک


| | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | په سیايي ټکو انځورګري | ۱ |
| ۲ | د افغانستان د هنر تاریخ ( اسلامي دوره) | ۳ |
| ۳ | په طبیعي موادو ټاپه کاري | ۷ |
| ٤ | د مبارکۍ کارت او د پاکټ جوړول | ۹ |
| ٥ | د لیرې، نږدې اوریتم سره اشنا کیدل | ۱۱ |
| ٦ | د طبیعي منظرې انځورګري | ۱٥ |
| ۷ | د جشنونو او ملي لوبو انځورګري | ۱۷ |
| ۸ | له غونج شوو کاغذو څخه د حجمونو جوړول | ۱۹ |
| ۹ | له اسلامي هنرونو سره آشنايي | ۲۱ |
| ۱۰ | له اسلامي ډیزاینونو څخه کاپي کول | ۲٥ |
| ۱۱ | دلیک دښکلا له هنر سره اشنايي | ۲۷ |
| ۱۲ | د بسم الله الرحمن الرحيم کاپي | ۳۱ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۳ | له اسلامي معمارۍ سره اشنايي | ۳۳ |
| ۱٤ | له اسلامي سبک څخه پر استفادې (پل) جوړول | ۳۷ |
| ۱٥ | له اسلامي هنرونو سره اشنايي | ۳۹ |
| ۱٦ | له ختیوڅخه د قلمدانۍ جوړول | ٤۳ |
| ۱۷ | له منیاتورۍ سره اشنايي | ٤٥ |
| ۱۸ | د قرآنکريم د رحل جوړول | ٤۷ |
| ۱۹ | له افغاني هنرمندانو سره اشنايي | ٤۹ |
| ۲۰ | له افغاني هنرونو سره اشنايي | ٥۱ |
| ۲۱ | د افغانستان له ملي موزيمونو سره شنايي | ٥٥ |
| ۲۲ | د منابعو فهرست | ٥٦ |




(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱



## د سیایي په ټکو انځور
## آیا کله مو د اسمان په وریځو کې، اشنا شکل لیدلی دی؟


څو ځاځکي جوهري رنګ د یوه کاغذ پر مخ واچوئ، بیا خپل کاغذ قات کړئ او په لاس لږ څه زور پرې وکړئ. وروسته بیا کاغذ خلاص کړئ، هغو نقشو ته په ځیر سره وګورئ او د کاغذ پاڼه له څو زاویو څخه وګورئ، تر څو په هغو کې آشنا نقشونه او انځورونه پیدا کړئ. کله چې رنګونه وچ شول د مناسبو خطونو په ورزیاتولو سره هغه شکل چې تاسې په کې لیدلی دی بشپړ کړئ او هغه نوروته وروښیئ.



(۱- انځور ) د سیایي هر ټکی چې د کاغذ پر مخ ږدئ کاغذ قات کړئ چې ورتـه شکل د کاغذ په بله برخه کې رامنځته شي.



(۲ انځور ) د کاغذ پاڼه په تورو لکو ډکه کړی او صبر وکړئ چې وچ شي او پر هغه بانډې



(۳ انځور) کاغذ هرې خواته وڅرخوئ او ګورئ چې د خپلې خوښې شکلونه جوړ کړئ.

بیاهم انځورنو ته په ځیر وګورئ او نوي نقشونه پیدا کړئ او د خطونو په اضافه کولو نوی شکل انځور کړئ. دې کارته ادامه ورکړئ ترڅو د ټولو ټکو یا خاپونو څخه انځورونه جوړشي:





**تمرین:**

۱- د رسم شوو شکلو په اړه په خپل منځ کې سره وغږیږئ.

۲- په خپل کورکې د اوبه د پونه کولو ( آب پاشی) په وخت کې کوم ناڅاپې انځورونه د ځمکې پر مخ وینئ، هغو ته پاملرنه وکړئ او وګورئ چې کوم اشنا شکلونه په کې لیدل کیږي.




(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۲



## په اسلامي دوره کې د افغانستان د هنر د تاریخ سره اشنايي.

**آیا پوهېږئ چې د افغانستان د اسلام نه مخکې او وروسته هنرونه څه توپير لري؟**



په افغانستان کې اسلامي ودانیود غزنویانو په دوره کې ډېره وده او پراختیا وموندله. د تاریخي منابعو په قول، چې د غزنویانو دوره د ودانیو، شکلو،مانیو او لویو جوماتونو دجوړېدو دوره بلل شوې ده چې د سلطان محمود غزنوي او د ده زوي (مسعود) د واکمنیو په زمانه کې په غزني او هرات کې جوړ شوي دي. اوس د دې ودانیو یوازې یوه برخه په ځای پاتې ده. د دې ابداتو په کنار کې په غزنی کې د ( ایینی ) مانۍ قصرونه او منارونه او په هلمند کې لښکری بازار د یادولو وړ دي د سلجوقیانو په دوره کې د امیرانو واکمنانو په هڅونه او د ځینو وزیرانو لکه ( نظام الملک) په اشاره ډېرې لويي ودانۍ جوړې شوې دی. غوریانو هم ډېرې لوېې ودانۍ جوړې کړې وي چې یوه بېلکه يې د ( جام منار) دی چې ٦٤ متره لوړوالی لري، دا منار څکه د ډېر ارزښت وړ دی چې د ښکلا لپاره یې خښتی او کوفي خط باندې پر هغې ځینې لیکنې شوې دي دا د افغانستان د ډېرو مهمو اثارو څخه شمېرل کېږي، او د نړۍ د فرهنگي میراثونو په لیست کې هم ثبت شوي دي.

د هرات جامع جومات چې د سلطان ( عیاث الدین غوري له خوا یې په هرات کې د بنسټ دبره کیښودل شوه. خو د بشپړېدو وکاریې د هرات د تیموریانو تر دورې پورې و رسیده.



(c) ketabton.com: The Digital Library




(۲ انځور) د جام په منار لیکل شوی کتیبې.



(۳ انځور) په افغانستان کې د جام منار ښکلاوې او کتیبې چې په سوره مریم پورې اړه لري.

د بلخ په غرب کې د (بابا حاتم) زیارت چې په هندسي انځورونو، گلانو،بوټو، دکچ کاریو د ډیزانونو په ښکلا، کتیبو، او د قابونو په ښکلا ښکلی شوې لرغونتیایې له ۵۳ هـ ق کال څخه پخوا ښودل شوی ده.په دغې دورې کې د ښکلا لپاره د ودانیو جوړولو زیات رواج درلود.




( ٤ انځور ) د بادغیس په قلعه نو کې د (شاه شهید ) په کنډوالو کې ځینې کاشي کارئ په شپږمه او اومه هجري پیړی پورې اړه لري.




(c) ketabton.com: The Digital Library

د ودانیو جوړولو بهیر د چنگیزیانو د یرغل په دوره کې په ټپه ودریده، نو ځکه په دې اوږده دوره کې د تزئیني اثارو څخه نور څه پر ځای پاتې نه شول. له هغوی وروسته د تیموریانو دوره د لویوودانیو او په هغې کې د اسلامي هنرونو د انځورونو له پلوه یوه ډېره ځلانده، بډایه او غني دوره وه. په ځانګړې توګه په هرات کې د ( شاه رخ) میرزا او (سلطان حسین بایقرا دورې او په افغانستان او هند کې د (بابر) دورې د یادولو وړ دي.
د دې دورو آثار په نهمه هجري پیړۍ کې د (ګوهرشاد بیګم ) زیارت، د سلطان حسین بایقرا زیارت په لسمه هجري پیړۍ کې د شپږوښکلي شوو منارو((څلو)) سره د( خواجه عبدالله انصاري زیارت، د هرات ګذرګاه او نور زیارتونه او هم په بلخ کې د (حضرت علي کرم الله وجهه ) زیارت چې د سخي په روضه مشهور دی. دا ټولې ځانګړتیاوې د تیموریانو دمعمارۍ دهنر ښکارندوی دي. د دې دورې نور اثار، لکه: د کندهار د سر پوزې په غره کې ( چهل زینه ) چې د تاریخ د لیکنې په اساس د .



(٥ انځور)په نهمه هجري پیړۍ کې د ( خواجه ابونصر پارسا قبر




( ٦ انځور په پنځمه او شپږ مه هجري پیړۍ کې د بابا حاتم مقبره




(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

بابر پاچا، په امر له تراشل شوو تیږو څخه جوړه شوې ده چې اتیاوو کسانو تېرو تو ږونکو د نهو کالو په موده کې جوړه کړې ده. همدارنګه د بابر په وخت کې په کندهار، کابل، استالف او په شمالي او ختیځو برخو کې ډېر لوی لوی باغونه جوړ شوي دي چې ډېر مشهوري یې دادي: (علم ګنج)، شهرا را) دلکشا، چار باغ، د بابر باغ، د بګرامیو باغ، د صفا باغ، او د کوکب باغ او داسې نور.



( ۷ انځور ) د هرات د جامع جومات منار



( ۸ انځور) د حضرت علي (کرم الله وجهه) روضه

**تمرین:**

۱-ستاسې په چاپیریال کې د اسلامي دورې کومې ودانۍ تراوسه پاتې دي؟

۲-په اسلامي ودانیو کې له کومو موادو څخه کار اخیستل کیده؟

۳- په افغانستان کې د اسلامي دورې د ودانیو ډېرې مهمې ځانګړنې کومې دي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

۳



# په طبيعي موادو ټاپه کول

## آيا تر اوسه مو فکر کړی دی چې له کومو شيانو څخه د ټاپه کولو لپاره کار اخلئ؟

له رنګينو مهرونو څخه په کار اخيستنه ټاپه کول سرته رسيږي. مهرونه په دوو ډلو ويشل کيږي: تيارمهرونه او جوړ شوي مهررونه: طبيعي مواد چې ډېر شکلي جوړښتونه لري.کولی شو چې د ټاپه کولو لپاره له تيارو يا طبيعي مهرونو څخه کار واخلو. د الوتونکو بڼکې، ډبرې، صدفونه، دونو لښتې او پاڼې او ...... چې ډېر عجيبه او حيرانوونکي جوړښتونه لري. د هغوی په مرسته کولی شو. بېل بېل رنګه نقشونه لاس ته راوړو، همدارنګه کولی شو چې د ميوو او سبو د عمودي اوافقي نيمولو او پريکولو څخه ګټه واخلو او له نيمې شوې برخې څخه چې په رنګ ککړه وي، د ټاپې لپاره کار واخلو.

د طبيعي موادو په ټاپه کولو کې د پديدې بېلې سطحې بايد په پام کې ونيول شي او د هغې له هر لورې څخه ټاپه جوړه کړئ. په دې ډول له بېلابيلو طبيعي جوړښتونو سره آشنا کيږئ او نوي انځورونه پيدا کوئ.




په طبيعي موادو د ټاپې تر سرته رسولو وروسته کله چې رنگونه وچ شول، په جوړشوو انځورونو ، نوي او تازه رسمونه وکاږئ. بيا انځورونو ته په ځير وگورئ او د خطونو په ورزياتولو هغه په نوي شکل بدل کړئ.



(۲ انځور) په طبيعي موادو ټاپه کاري.



(۳ انځور ) په طبيعي موادو د ټاپې بشپړول او په هغې د نوو شکلونو جوړول.



(٤ انځور) په طبيعي موادو ټاپې بشپړول.

**تمرين:**

ستاسې په چاپيريال کې چې کوم طبيعي مواد شته، هغو ته په ځير سره وگورئ، څه ډول يوه ښکلي ټاپه جوړولی شئ.





(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library


۴



# د مبارکۍ کارت او دپاکټ جوړول

## تراوسه مو څو ډوله د مبارکۍ کارتونه لیدلي دي؟

خلك په بېلو،بېلو ورځو او مناسبتونو د مبارکۍ کارتونه یو بل ته ورکوي، لکه: د میلمستیا کارت،د قرآنکریم د ختم کارت ، د کوچني اخترد مبارکۍ کارت، د لوی اختر د مبارکۍ کارت، د نوي کال د مبارکۍ کارت، د زېږېدنې د ورځې کارت د ښوونکې د ورځې کارت ...او نور د مبارکۍ کارتونه په بېلا بېلو کچواو اندازو او بېلا بېلو طرحو جوړېږي.سر بېره په هغو کارتونو چې په بازار کې پلورل کېږي، کولی شو لاسي کارتونه په ښکلې بڼه جوړ کړو. دکارت د جوړېدو لپاره باید موضوع وټاکل شي. وروسته یې اندازه طرح او د جوړولو لاره چاره وټاکل شي. لومړی یو سپین او یا رنګه مقوا کاغذ د هغه کارت چې تاسې یې په پام کې نیولی دی د هغه په شکل او اندازه پرې کړئ. د کاغذ منځ په پنسل او یا کوم شي باندې چې تیزه څوکه ولري، یو خط کش کړئ تر څوله سم نیما یې څخه قات شي. لومړی د کارت په مخ خپله طرحه انځور کړئ.





د هغې د ښکلا لپاره له بېلا بېلو لارو څخه، لکه: انځورګري ، ټاپه کاري، د بېلا بېلو موادو نښلول یا رنګه کاغذونه د (کولاژ) د طرحې بشپړول او یا په هغې باندې د نورو مواد و نښلول او یا له ځنګ په ځنګ ایښودلو څخه کار واخلئ.

ځینې کولاژونه پنډ وي پام کوئ چې ستاسې کارت زیات پنډ نه شي او په پاکټ کې په ښه شان ځای شي. پام مو وي د کومې ورځې په مناسبت او یا هغه چاته چې تاسې کارت ورکوئ له روښونو او لارو چارو څخه یوه لاره د هغو د بشپړېدو لپاره وټاکئ . لومړی خپله طرحه د کارت په مخ انځور کړئ. د کارت مخ او د هغې د ننه برخه په ښکلیو انځورونو ښکلې کړئ. وروسته په ښکلي خط د کارت د لیکلو برخه ولیکئ. د کارت تر چمتو کولو وروسته کولی شئ هغه ته یو ښکلی پاکټ جوړ کړئ. د پاکټ اندازه د کارت له اندازې سره په پام کې ونیسئ. دیوه پاکټ د جوړولو لپاره بېلا بیلې لارې شته. تاسې کولی شئ یو جوړ پاکټ خلاص کړئ او د پاکټ د جوړېدو طریقه ترې زده کړئ. او هم کولی شئ چې د پاکټ د جوړوو لپاره یوه نوې طرحه جوړه کړئ. د پاکټ د جوړولو ډېره اسانه لاره داده چې خپل کارت د یوه سپین کاغذ په منځ کې کېږدئ او بیا په پنسل باندې د هغې څلور طرفه تت او کمزوري خطونه وباسئ او په څلورو خواوو یې مثلثونه رسم کړئ او بیا اضافي ځایونه بیاتې کړئ او د تتو خطو ځایونه قات کړئ او درې مثلثونه سره ونښلوئ، نو ستاسې پاکټ به تیار شي. پام مو وي چې د پاکټ د ننه برخه په ځنډوېږي ونه نښلي وروسته بیا خپل کارت د پاکټ په د ننه کې کېږدئ او څلورم مثلث پرې قات کړئ او خپلو خپلوانو ته یې ورکړئ.



**تمرین:**

۱- دیوې ځانګړې ورځې په مناسبت یو کارت جوړکړئ، طرحه، اندازه او د ښکلا طریقه یې په خپله خوښه وټاکئ.

۲- د کارت په اندازه یو ښکلی پاکټ جوړکړئ او خپل کارت په کې واچوئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library


۵

# د تناسباتو، ليرې، نږدې او ريتم سره اشنايي.



## په طبيعت کې د پديدو ترمنځ کومې اړيکې وينئ؟

تناسب: ايا د فيل او زرافې د بدن اندازې، د سرېو د سترګواو د پوستکي رنګ، ديوه ماشوم د لاس پوستکي او د يوه زاړه سړي د لاس پوستکي ته مو پام کړی دی؟ د برخو او اجزاوو تر منځ نسبت له يو بل سره او په هره



(۱ انځور) د هر يوه حيوان په بدن کې ځانګړې تناسبات پيداکېږي د زرافې د بدن بيلابيلو برخو اجزاوو ته پاملرنه وکړئ.

پدیده کې د هر یو جز نسبت ته تناسب وایي.په طبیعت کې زیات شمېر تناسبونه لیدل کېږي. په طبیعت کې هره پدیده ځانګړي تناسبونه لري. له همدې امله په طبیعت کې د خدای تعالی (ج) مخلوقات په هنري او د بشر په لاس جوړښتونو کې د تناسب او ایجاد معیار ګرځېدلی دی.

انسان د غرونو، تیږو، ونو ، ګلانو، حیواناتو، الوتونکو، کبانو او ......په دقیقه لیدنه خبرېږي، د توتي د بڼکود رنګونو تر منځ تناسب، د فیل په بدن کې د اجزاو ترمنځ تناسب ( د فیل خړ توم (هاتي) اوږد شکل، پلن غوږونه، سر، بدن او د فیل لوې پښې) او د ونو داوږدوالي او پلنوالي تناسب په همدې ترتیب د انځورګرۍ لاسي کار، په خټه کار، د حجمونو جوړولو او ..... د اندازو تر منځ تناسب، شکلونو او جوړښتونو ته اړتیا لري.

پر سپکتیو: ( لریوالی او نږد یوالی ) هغه شیان چې لېرې دي او هغه شیان چې نږدې دي څه توپیرونه سره لري؟ انسان د لېرېوالي او نږد یوالي په سبب شیان او طبیعي پدیدې، په بېلا بېلو بڼوویني. د مثال په توګه که یو ځنګله ته له لېرې وکتل شي هغه ونې چې نږدې دي له رنګه ډکې د ډېرو جزییاتو سره لیدل کېږي او هغه ونې چې لیرې وي کم رنګه ، لنډې او جزییات یې نه تر سترګو کېږي، نو له دې امله اندازه او د اشیاوو لیدنه له نږدې او لېرې څخه توپیر کوي.



(۲ انځور) د بېلو بېلو ګلانو په رنګونوکې تناسب، د نباتاتو حیواناتو، کبانو، الوتونکو او حشراتو تناسب ته په غور وګورئ.



(۳ انځور) د حیواناتو په تن کې د بېلا بېلو سیمو د ونو شکل ، وریځو او غرونو ته پاملرنه وکړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library



( ٤ انځور ) د جوارو د دانو د تکرار منظم ریتم ته پاملرنه وکړئ.



( ٥ انځور) د غني په تارونو د ریتم تکرار ته پاملرنه وکړئ.

د اشیاوو او طبیعي پدیدو په کوچنیو او لویو انځورولو کولی شو لیرې او نږدې وښیو. همدارنګه په متضادو رنګو هم کولی شو لیرې او نږدې وښیو لکه: ( تیره رنګونه د روښانه رنګو تر څنګ) هنرمندان د لیر یوالي او نږیوالي لپاره له بېلا بېلو لارو چارو څخه کار اخلي. تصویرونه وګورئ او د لېریوالي او نږدیوالي د بېلا بېلو لارو چارو په هکله سره وغږیږئ.

ریتم: ایا تر اوسه د شپو او ورځو او د کال د فصلونو تکرارته پاملرنه کړې ده؟ په طبیعت کې د پدیدو تکرار او بدلون یو ځانګړی نظم لري.

هنرمندان د هنر په بېلابېلو څانګو کې د کلمو، غږونو، شکلونو، رنګونو، او خطونو تر منځ تکرار او بدلون رامنځ ته کوي. ریتم کله منظم او کله نا منظم



(c) ketabton.com: The Digital Library



(٦ انځور ) د وریځو تکرار په آسمان کې یو ځانګړی ریتم رامنځ ته کوي.



(٧ انځور) د ګوره خر د خطونو ریتم ته وګورئ.

وی. منظم ریتم په طبیعت کې، لکه: د زړه د حرکتونو او په هنر آثاروکې، لکه: د کاشي کارۍ په انځور کې یا د قالینو او بدل منظم تکرار دی. د غیر منظم ریتم نمونې په طبیعت کې، لکه: د بحرد اوبو څپې، چې په بېلا بېلو فصلونو کې ډول ډول بدلونونه په کې رامنځته کېږي. نا منظم ریتم په هنري اثارو کې د خطاطی د الفبا په تورو کې لیدل کېږي چې د عمودي او افقي خطونو په یو ځای کیدو یې ځینې برخې زیاتې اوځینې نورې یې کمې وي او بېل بېل بدلونونه لري. نا منظم ریتم د سترې کوونکې تکرار مخنیوی کوي.

دبېلو بېلو رنګونو، جوړښتونو، خطونو، شکلونو نه په کار اخیستنه کولی شو چې په هنري تجسمي اثارو کې تناسب، ریتم او ښکلا منځ ته راوړو، هنرمندان د بېلا بېلو ریتمونو الهام له طبیعت څخه اخلي.



**تمرین:**

١- د تناسب نمونې په شکلونو، رنګونو او اندازه په طبیعت کې پیدا کړئ او د هغو په هکله سره وغږیږئ.

٢- د خپلې خوښې له رنګونو څخه په یوه پاڼه کې یو ښکلی ریتم جوړ کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

۶



# د منظرې انځور ګري

**ستاسي پر شاوخوا او طبيعت کې د ليدنې ښکلي ځايونه شته؟ له هغو کوم يو د انځور ګرۍ لپاره ټاکئ؟**

دګلانو د ښتې، باغونه، ځنګل، دګودر غاړه، د طبيعت ډېرې ښکلې منظرې دا ټول د نقاشۍ لپاره مناسبې موضوعګانې دي. د طبيعت فضا د انځور ګرۍ له صفحې څخه ډېره لويه ده، خو کولی شو چې هغه په مناسبه اندازه وړوکې کړو او د انځور ګرۍ په پاڼه کې يې ځای کړو.

لومړی په خپل شـاوخوا کې يوه ښکلې منظره انتخاب کړئ. وروسته تصميم ونيسئ چې کومه برخه انځور کړئ.

(۱ انځور) د دې منظرې د انځورولو لپاره لومړی اوبه رسم کړی او بيا افق او بيا عرونه انځور کړئ.



(۲ تصوير) د دې منظرې په انځور ولوکې لومړی د لارې خطونه او ونې انځور کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

پـه غور او دقت هغې ته وګورئ او بيا هر هغه شـی چې ډېـر لوی وي هغه انځور کړئ او وروسته د هغه په شاوخوا کې نور شيان ورزيات کړئ. ښه داده چې لومړی منظره په رنګه پنسل چې کم رنګه وي وباسئ، ځکه چې که کوم ځای د اصلاح وړ و، هغه ته بدلون ورکړئ. د انځورولو په وخت کې تناسبات، لېرېوالی، نږدېوالي او ريتم ته په طبيعت کې په کلکه پام وکړئ او هغه په انځور ګرۍ کې وښياست.


کله مو چې طرحه بشـپړه شـوه، نو بيا د طبيعت رنګونه په ډېر دقت وګورئ. تاسـې



کولی شئ په خپل انځور کې له طبيعي رنګونـو څخه کارواخلـئ او يا د خپل احسـاس د بيانولو لپـاره ذهني رنګونه د طبيعت په فضا کې وکاروئ. او کوښښ وکړئ چې په خپله نقاشی کې د رنګونو ورته والی او هم غږي وښيئ.



(٤ انځور) په دې منظره کې لومړی ونه انځور کړئ.



(٥ انځور) لومړی غرونه او بيا ونې انځور کړئ.



**تمرين**:

له ټولګي څخه د باندې د خپلې خوښې د منظرې په انځورولو پيل وکړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۷

# د جشنونو او ملي لوبو نقاشي

**د ريښتيني ژوندانه کومې موضوعګانې د انځورګرۍ لپاره ټاکئ؟**
**جشنونه او لوبې د انځورګرۍ لپاره کومې په زړه پورې صحنې لري؟**

هر هېواد ځانګړي دودونه او رواجونه لري چې خلک يې په بېلا بېلو وختونو کې لمانځي. دا لمانځنې د موضوع د ارزښت ښکارندوی دي. ځينې رسمونه او رواجونه خصوصي وي چې په يوې يا څو کورنيو پورې اړه پيدا کوي، لکه: د واده مراسم او ځينې مراسم عمومي وي چې د هېواد هر وګړي ته د ارزښت وړ وي او ټول خلک په کې خوښي ښکاره کوي، لکه: د افغانستان د خپلواکۍ جشن چې هر کال د زمرې په ۲۸ نېټه لمانځل کېږي.



دا په افغانستان کې ملي جشن دی. په ۱۲۹۸ هـ ش کال کې د اعلیحضرت امان الله خان په مشرۍ او د افغان میړني ولس په سربښندنو افغانستان دهغه وخت له انګلیسي یرغلګرو څخه آزادشو. په دې ورځ ولس مشر او ولسي لوړ پوړي چارواکي د خلکو ترڅنګ د جشن په مراسمو کې برخه اخلي.

په ملي جشنونو کې داسې لوبې سرته رسیږي چې د ټولو لپاره په زړه پورې وي. له همدې امله دا ورځې د خلکو په زړونو کې د ډېر وخت لپاره پاتې کېږي چې ځینې برخې یې نه هیریدونکې دي. موسیقي غږول کیږي او هنرمندان د ازادۍ ځانګړې سندرې وایي.

د خپلواکۍ په جشن کې بېلا بېلې سپورتي لوبې ترسره کیږي چې یوه یې هم (نیزه بازي) ده. نیزه بازي په اس، نیزه او د لرګي پـه موګي باندې چې تقریباً پنځلس سانتي متره وي او په ځمکه کې ټکوهل کېږي. داسې ترسره کېږي چې ډول وهونکی ورته ډول وهي او نیزه باز پر اس سپور د موګي په لوري حرکت کوي. څومره چې موګي ته نږدې کېږي په همغه اندازه ډول وهونکی، هم تیز ډول وهي ترڅو نیزه باز موګي ته ورسیږي او دنیزې په سر د لرګي موګی پورته کړي، هغه نیزه باز چې په دوو وارو کې موګی پورته نه کړي، د لوبې بایلونکی شمېرل کېږي. دا لوبه په خلکو کې ډېر شور او زوږ رامنځ ته کوي.

**تمرین:**

۱- ایا پوهېږئ چې په افغانستان کې ملي جشنونه کوم دي؟

۲- هغه جشن او میله چې ډېر مو خوښېږي په هلکه یې سره خبرې وکړئ او د جشن هغه صحنه چې ستاسې خوښه شوي وي، انځور کړئ او ننداری ته یې وړاندې کړئ او په هکله یې سره وغږیږئ.

۳- ستاسې په ښار کې په جشن کې کوم رسم او دود تر سره کېږي؟ په دې ورځ کومې لوبې سرته رسوئ؟ په هکله یې سره وغږیږئ.

٤- په هغه ځای کې چې ژوند کوئ د لوبو په اړه یې پخپلو کې سره خبرې وکړئ.





(c) ketabton.com: The Digital Library

٨



## له غونج شوو کاغذو څخه د حجمونو جوړول.
## کوم باطله مواد دحجمونو د جوړولو لپاره مناسب دي؟

ډېر باطله مواد زموږ په شاوخوا کې شته چې د حجمونو د جوړولو لپاره مناسب دي د دې موادو له ډلې څخه یو هم باطله کاغذدی. له باطله کاغذ څخه په بېلا بېلو لارو او روشونو حجمونه جوړوي چې یو هم له غونج شوي کاغذ څخه گټه



(c) ketabton.com: The Digital Library

اخيستنه ده. د دې کار لپاره تاسې هم کولی شئ چې د خپلې خوښې موضوع وټاکئ او د هغې د شکل او اندازې په هکله تصميم ونيسئ. په بېلا بېلو رنګود باطله کاغذونو ټوټې را ټولې کړئ.

خپل لاسونه لږ څه لانده کړئ او باطله کاغذونه په دواړولاسونه کلك کړئ ترڅو ښه غونج شي او وروسته هغه شکل چې ستاسې په ذهن کې وو په همغه ډول خپل غونج شوي کاغذونه تنظيم او د خپلې خوښې شکل جوړکړئ. کولی شئ حجم يو او يا څو ټوټې جوړ کړئ او د سکاشتيب په وسيله يې سره ونښلوئ.



(٢ تصوير ) دغونج شويو کاغذو څخه يوه جوړه شوې منه





(٣ انځور) دغونجوشويو کاغذو برخې سره ونښلوئ او په لرګيو پورې چې د الوتونکي پښې دي، وصل کړئ.



(٤ انځور) وزرونه، لکۍ، مښوکه او سترګې يې په حجم پورې ونښلوئ.

## تمرين:

يو مقوا ډبل کاغذ د دايرې په شکل جوړ کړئ. ترڅو کاغذي واړه شکلونه، لکه: (مرغۍ) له غونج شويو کاغذوڅخه جوړه او رنګه کړئ. دنخ د تار په واسطه هغه د دايرې په مرکز پورې څوړند کړئ بيا يې د کوټې له چت را وځړوئ اوکه دا شکلونه کړکۍ ته نږدې وو، نو باد هغه ښوروي، حجمونه په حرکت راولي او ښکلا يې زياتېږي.





(c) ketabton.com: The Digital Library

٩



# له اسلامي هنرونو سره آشنايي


## آيا پوهيږئ چې اسلامي هنر له مسيحي هنر سره څه توپير لري؟

د اسلام مقدس دين په عربستان کې چې د وحي د نازيليدو ځای دی، را څرګند شو. وروسته په ډېره بيړه د ختيځ له خوانه تر منځني ختيځ، چين او هند پورې او د لويديځ له خوا تر افريقا او هسپانيې پورې خپور شو. په دې پراخو سيمو کې يې د ډېرو ژبنيو، قومي، جغرافيايي، تاريخي او نورو توپيرونو سره سره يو شريک دين، تمدن او فرهنګ منځ ته راوړ چې اسلامي هنر يې له پايلو څخه دی.

مسلمانانو لومړی، د دوو معاصرو او لويو تمدنونو د هنرمندانو د( بيزانس او اسلامي نړۍ) له هنرونو څخه د اسلام د سپيڅلي دين د راڅرګنديدو په وخت کې د جوماتونو د جوړولو لپاره ګټه او چته کړه. په نوو مسلمان شوو هېوادو کې د وخت په تيريدو هنرمندانو هلې ځلې وکړې چې د اسلامي عقيدو دبيانولو مناسب کالبونه په خپلو هنري آثارو کې پيدا کړي. اسلامي اعتقادات، لکه: د لوی خدای(ج) يووالی، د مخلوق يووالی ( هم غږي) چې په قرآن عظيم الشان کې يې بيان راغلی

(١ تصوير) د هرات په (ګذرګاه) کې د ( خواجه عبدالله انصاري ) په قبر د بسم الله الرحمن الرحيم ليکنه چې کاشي شوي ده.





دی، په اسانتیا سره نه شوکولی چې په هنري آثارو کې يې وښيي. له همدې امله هنرمندانو د دايرې په څير له هندسي سمبوليکو شکلونو څخه چې د (يوالی څرګندوی) دي په بېلا بېلو ډيزاينونو په مرکزي نقطه باندې ټينګار وکړ چې د عالم د بېلا بېلو پديدو يوالی او هغه حقيقت چې له شکلونو او ظاهري موجوداتو څخه ډېر لوړ دی، څرګند کړي. د دې نظر له مخې اسلامي هنر له مسيحي هنر سره چې اصلي موضوع يې د مسيح (ع) او حضرت بی بی مريمی د ژوندانه د بېلا بېلو صحنو څرګندونه کوي، ډېر توپير لري. مسلمانو هنرمندانو د قرآنکريم ليکنه په ښکلي خط او د لويو ښکلو جوماتونو جوړولو ( د جمعې او اخترونو د لمونځونو د اداکولو لپاره) په خپلو آثاروکې نظم ، تناسب، تعادل، هم غږي او ښکلا په وجود راوړل چې روحاني ښکلې خطي اثار، اسلامي معماري او د طراحی نمونې، د سفالي لوښوجوړول، فلزکاري د لرګيو لوښې، د ټوکر ټوټې ، قالينې اوکتاب جوړول يې نورې لاس ته راوړنې دي.




(۲ تصوير) د مصر د قاهرې په شمالی هديره کې د (قايت بيګ ) د قبر د ګنبدې ښکلاوې چې مملوکانو په کالو په دوره پورې اړه لري.



(c) ketabton.com: The Digital Library



(٥ انځور) په اومه هجري پیړۍ کې ډهلی ته نږدې د (قطب جومات ) حجاري.



(٤ انځور) په اومه پیړۍ کې د (لاکارتای) د مدرسې د چت کاشي کاري.



(٦ انځور) په لسمه هجري پیړۍ کې په ایران کې ( سجاده ایي )قالینچه

د لرګیو لوښې، درخت ټوټې ، قالینې او د کتابونو جوړول یې نورې لاس ته راوړنې دي. که څه هم په ننۍ نړۍ کې دا نمونې د اسلامي هنر په طراحیو کې غور، دقت او ظرافت ګڼل کېږي، خو په هغو زمانو کې د بېلا بېلو وګړو د استفادې لپاره جوړې شوې وې چې ځانګړي ډیزاینونه یې درلودل. په اسلامي هنر کې د ډیزاینونو برخه له هنر سره یو ځای شوه، ترڅو مسلمانان هره شیبه په نظم،ښکلا ،برابرۍ او هم غبرۍ کې ژوندوکړي. د اسلامي هنر په نمونو کې سطحې ډېرې ظریفې او دقیقې په ښکلا پوښل شوې دي په اسلامي لومړنیو پیړیو کې هنري ښکلا وې په هندسي طرحواو نقشونو کې ،لکه: د وښو او بوټو شکلونه ( اشکال ګیاهي) او اسلامي ډیزاینونه ( مارپیچي) شامل وو. وروسته یې په کاشي کاریو، سفالي او فلزي لوښو، د ټوکر په ټوټو، قالینو ، میناتوري د الوتونکو، حیواناتو او انسانانو په انځورونوکې رواج وموند.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۷ انځور) پــه څلورمه هجري پیړۍ کې په هسـپانیه کې د (قرطبه) جامع جومات.

مسلمانو هنرمندانو په دې نمونو کې له طبیعت څخه په تقلید پیل وکړاو د شـکلونو په سـاده کولو کې یې له ظاهري شکل څخه ډېره وکړه، ترڅو د لیدونکي ذهــن له واقعي نړۍ څخه بیل او معنوي نړۍ ته یې را وبولـي، نو ځکه پــه قرآنکریم او جــای نمازونو باندې د انســان او حیــوان تصویرونه نــه انځوروي، په دې نمونو کې هندســي پیچلي خطونه او رنګونه په اســلامي ډیزاینونو کې د سـترګو د حرکت سبب ګرځــي چــې د لیدونکي ذهــن په یوه نقطــه کې نه دریږي دا ریتمیک حرکت د نقشــونو په طراحۍ کې د ریاضي په شان نظم لیدل کېږي، تعادل او هم غږي چې په نیول شــوې او خالي فضا کې منځ ته راغلي دي په اثاروکې ســربېره په ځانګړي شکل، حرکت، نظم، تعادل او همغږي را منځته کوي. د مسلمانو هنرمندانو له نظره دا هم غږي، د نړۍ د یوالي څرګندونه کوي.



**تمرین:**

۱- د روښانې فضا او د ښکلا ورکولو په نقشونو سره وغږېږئ.

۲- د اسلامي هنر کومې نمونې مولیدلې دي؟ د ډېروښکلونمونو په هلکه یې څولیکې ولیکئ.

۳- کومې هنري ځانګې پیژنئ چې د مسلمانانو تر منځ دو د یزه بڼه لري؟

## ۱۰



# له اسلامي ډيزاينونو څخه کاپي کول

## ايا د اسلامي ډيزاينونو د کاپي کولو په لاره چاره پوهيږئ؟



(۱ تصوير) په راولپنډی کې د (معي الدين ........ د مقبرې کاشي کاري.



(۲ تصوير) طرحه د کاغذ په مخ پلي شوي ده.

د قالينې او کاشي د ښکلو ډيزاينونو د کاپي کولو لپاره لومړی د خپلې خوښې ډيزاين پيدا کړئ، وروسته په ترس کاغذ کې يې ( شفاف کاغذ) کاپي واخلئ ترڅو وکولی شئ چې بل کاغذ ته يې وليږدوئ او بيا يې رنګه کړئ.

د طرحې د انتقال لپاره ښه داده چې ډيزاين د ميز پر سر انځور کړئ او په تخته يې کېږدئ او بيا دترس کاغذ وربانديې سربېره داسې ټينګ کړئ چې د کارکولو په وخت کې ونه ښوري. وروسته د ډيزاين خطونه په ډېر غور سره وباسئ. ښه داده چې لومړی د ډيزاين اصلي خطونه وکاږئ او وروسته يې جزييات رسامي کړئ. کله موچې ډيزاين بشپړ کړ، هغه له اصلي ډيزاين څخه جلاکړئ. اصلي طراحي ليرې کړئ او د ترس کاغذپه بل مخ واړوئ. ډيزاين د دويم ځل لپاره انځور کړئ، ترڅو د اصلي کاغذ د ټاپه کولو لپاره چمتو شي. لومړی لږ پنډکاغذ يا مقوا چې د رنګه کولو لپاره مناسب وي، د نقاشی د ميز په تخته د سکاشتيپ په وسيله يې څلور واړه څنډې ونښلوئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د ترس کاغذ په خپل اصلي مخ راواړوئ او په نښلول شوي ډبل کاغذ يې داسې ونښلوئ چې کونجونه يې سره برابر وي، ترڅو کلک شي.



( ۱۵نځور) يوه بله مرحله.

يووار بيا هغه خطونه چې د ترس په کاغذ معلومېږي انځور کړئ، ترڅو ډيزاين له ترس کاغذ څخه ډبل کاغذ ته ور وليږدوي. ورو، ورو د ترس کاغذ له ډبل کاغذڅخه جلا کړئ او وګورئ چې ډيزاين په بشپړه توګه ډبل کاغذته انتقال شوی دی او کنه؟

که ستاسې ډيزاين بشپړو، نو په هغه صورت کې د رنګه کولو لپاره چمتو دی.

لومړی له ابی رنګونوڅخه يو ډېر تياره رنګ جوړکړئ او هغه ځايونه چې تياره معلومېږي، رنګه کړئ او بيا له روښانه رنګونو څخه رنګونه جوړ کړئ او په خپلو ځايونو کې يې وکاروئ، ترڅو رنګول بشپړ شي.
وروسته کاغذ له ميز او يا د نقاشی له تختې څخه جلا کړئ او هغه په شيشه يې قاب کې کېږدئ.



( ٤ انځور) اخري مرحله.



**تمرين**

له يوه اسلامي ډيزاين څخه يوه ښکلی کاپي جوړه کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۱

## د لیک د ښکلا له هنر سره اشنایي.

**«من کتب بـــسم الله الرحمن الرحیم مجودة تعظیماً الله غـفرالله له.**
**څـوک چـې د الله د درناوي پـه خاطر بسـم الله الرحمن الرحیم په ښکلي خط ولیکي الله تعالی به هغه وبخښي.**

د ښـکلي لیکلوهنر د اسـلامي لومړیو پیړیو لومړنۍ پدیده ده چې د اسلام د سپیڅلي دین له خپریدو نه وروسته یې په مکه معظمه کې پراختیا او پر مختیا وموند له. د سواد زده کړه پیل شوه او لومړني قرآن کریمونه په ((کوفي خط))

(۱ انځور) د یاقوت المستعصمی امضاء)




(c) ketabton.com: The Digital Library

وليكل شول. اسلامي حسن خط د قرآنكريم او نبوي احاديثو دليكلو په خدمت كې و چې مسلمانانو ته يې ډېر ارزښت درلود.

د هغوی د هڅوپه نتيجه كې يې د الهي كلام لپاره يو په زړه پورې هنر چې د هغې د ښكلا ارزښت يې درلود، مينځ ته راوړ. د حضرت محمد الرسول الله (ص) له وفات نه وروسته امير المومنين حضرت ابوبكر صديق (رض) او حضرت عثمان (رض) ته دنده وسپارله چې د قرآنكريم نسخې را ټولې كړي او د حافظانو په مرسته يې مقابله كړي او په واحد شكل يې وليكي.
د قرآنكريم په ليكلو سربېره د قرآني آياتونو، حديثونو ،دوعاگانو او مباركو نومونو بېلا بېلو ليكنې په ودانيو ، په ځانگړي ډول په جوماتونو، منبرونو، دروازو، سفالي لوښو، فلزاتو او د ټوكر په ټوټو رواج وموند دا خطونه يا ليكنې له هندسي ډيزاينونو سره د ښكلا لپاره په اسلامي هنر كې كارول كيدل.




(۲ انځور) د نهمې هجرى پېړۍ په دويمه نيمايي كې د قرآنكريم د دوو لمړنيو صفحوپه نازك نخودي كاغذ په نسخ خط ليكل شوى دى.



(c) ketabton.com: The Digital Library


(c) ketabton.com: The Digital Library

په دریمه هجري پیړۍ کې ( ابن مقله بیضاوي) د لیکونو د اسانه کولو لپاره له کوفي خط څخه نوي لیکونه راویستل، لکه: د (نسخ) لیک د وخت په تیریدو سره بشپړ او ښکلا یې هم زیاته شوه او له هغه وروسته تر اوسه پورې ټول قر آن شریفونه په نسخ خط لیکل کېږي.
ابن مقله د نسخ په لیک کې نور بدلونونه هم راوستل چې په پایله کې یې د ثلث خط منځ ته راوړو.وروسته نور نوي لیکونه، لکه: ریحان او محقق د قرآنکریم د سورتونو د عنوانونو لپاره او د توقیع خط چې قاضیانو به د اسنادو په لیکلو کې ترې کار اخیست د ( رقاع) خط د فرمانونو، رقعو او د کتابونو د عنوانونو دلیکلو لپاره او د ولایتونو حاکمانو په دې خط لیکنې کولې.
د نسخ او ثلث خطونو په منځ ته را تګ سره په اسلامي هېوادونو کې د الهي کلام لیکنې په ډېره ښکلې بڼه سرته رسیدې. هنرمندانو د پاڼو، لیکنو ، ښکلا، قرآنکریم لومړیو پاڼو، د سورتونو د پای علامې او د کتابونود ټوکونو په جوړیدنه کې مرسته کوله. د ابن مقله وروسته د خط هنرمندانو اسلامي لیکونه لوړو پوړیو ته ورسول، لکه: ( د ابن بواب ( چې د نسخ خط قانونمندي یې مشخصه کړه) ، ( یاقوت مستعصمي (چې بېل بیل خطونه یې ډېر ښکلي لیکل ) او( احمد نیریزي) چې دخط په ښکلا او پیاوړتیا کې یې ساری نه درلود.) اتمه هجري پیړۍ د خط د ښکلایوه ډېره ښه دوره وه د خط په ښکلا سربېره د دې پیړۍ هنرمندانو




(۲ انځور) د فاتحه سورت د میر عما دحسینی هراتي لیکنه.)

نـوي ليکونه، لکه: د ( تعليق) (خط چې د توقيع او رقاع خطونو له ترکيب څخه منځ ته راغلي دي د (نستعليق) چې د (نسخ او دتعليق له خطونو څخه جوړشوی دی). او د شکست خط يې وکاراوه . د نستعليق ليک په اسلامي دوره کې وروستنی پړاو دی.په دې ليک ډېرو خطاطانو ليکنې کړې دي، لکه: ( مير علي هروي) او (ميرعما (حسيني) چې ليک يې د کمال لوړې درجې ته رسولی دی.هنرمندانو بېل بېـل اسـلامي خطونـه پــه ديوالونـو، ودانيـو، دروازو، د منبرونــو په ديوالونــو، د قرآنکريم په رحلونو په ډول ډول لوښو او ټوکرانو باندې کارولي دي.



(٤ انځور)

**تمرين**:

١- د ښکلي ليک نمونې مو په کومو ځايونو کې ليدلي دي؟

٢- د نامتوجوماتونو دروازې او د خلکوکورونو ته ځير شئ او ووايئ چې له کومو موادو څخه جوړشوي دي؟

٣- هغه وسيلې چې په خپلو شاوخواکې وينئ، کوم اسلامي ښکلی ليک په کې کارول شوی دی؟

٤- آيا ستاسې په ښاراو يا کلي کې نامتو خطاط شته؟ په دې هکله معلومات وړاندې کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۲

## د بسم الله الرحمن الرحیم کاپي کول.

**ایا غواړئ چې له ( بسم الرحمن الرحیم ) څخه کاپي جوړه کړئ او په خپل کورکې یې وځړوئ؟**

مسلمانو خطاطانو الهي آیتونه په ښکلې بڼه لیکلي دي. د بسم الرحمن الرحیم څو نمونې مو په کتابونو، دټلویزیون په صفحه او د جوماتونو په دیوالونو لیدلي دي؟
د نیمې تختې کاغذ په اندازه د بسم الله یو ښکلی تصویر پیدا کړئ او د بسم الله دکاغذ په اندازه د ترس کاغذ ( روښانه کاغذ) راواخلئ او د بسم الله په سرېې داسې ونښلوئ چې ونه ښوریږي. هیرمو نه شي چې د بسم الله د لیکو په وخت کې باید اودس وکړئ. د بسم الله لیکل د لسم درس په شان کاپي کړئ.

اصلي کاغذ د نقاشۍ د میز په تخته باندې په سکاشټیپ ونښلوئ. د دې لپاره چې د کار کولو په وخت کې ونه ښوریږي او بل دا چې کاغذ د ابي رنگونو د استعمالولو په وخت کې پړسیږي له وچیدو وروسته به رنگونه بیا خپل اصلي حالت ته راوگرځي. د رنگه کولو لپاره لومړی ډېره تیاره سیایي انتخاب کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library


د مویک قلم په اوبو لوند کړئ او د آبی رنگونو دخپلې خوښې په رنګ یې ککړ کړئ وروسته مویک قلم د رسامۍ په پلیټ ( مناسب پلاستیکي لوښي، لرګیو، فلزي شیشه یې لوښو او یا د ابي رنگونو د قوتی په سرپوښ ومښئ، ترڅو رنګ او اوبه ښـه سره ګډاو ترکیب شي. که رنګ ټینګ ( غلیظ) وي او په مویک پورې نښلي د دویم ځل لپاره یې په اوبو کې غوټه کړئ. ترڅو ټینګوالی یې د کارولو وړشي.

ستاسې تیار شوی رنګ د مویک قلم په واسطه د کاغذ پر مخ کېږدئ او په ډېر غور او دقت رنګونه د اصلي خطاطی په شان په خپلو ځایونو کې په کار یوسئ.

کله مو چې د بسم الله سطحه له رنګ ډګه کړه. بل رنګ جوړ کړئ. کله چې پخوانی رنګ وچ شو. نوی رنګ پرې وکاروئ. د بل رنګ د کارولو په وخت کې خپل مویک په اوبو کې ووهی، ترڅو پخوانی رنګ په بشپړ توګه پاک شي.

رنګونه له تیاره څخه د روښانه رنګ په لور په خپلو ځایونو کې وکاروئ، ترڅو د کاغذ پر مخ مولیک بشپړ شي.

د کار تر بشپړیدو او وچیدو وروسته د میز او یا د رسامۍ له تختې څخه یې جلا کړئ او په شیشه یې چوکاټ کې یې پخپله کوټه کې وځړوئ.



**تمرین**:

د بسم الله الرحمن الرحیم یوه ښکلې نمونه پیدا کړئ او د هغې یوه کاپي جوړه کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۳




## له اسلامي معمارۍ سره اشنايي.


**ايا غواړئ چې ( لااله الا الله وحده دينه الا سلام و محمداً عبده و رسوله) کاپي کړئ او په خپل کور کې يې وځړوئ؟**

حضرت محمد الرسول الله (ص) د معراج د شپې په هکله وايي چې يوه ډېر لويه گنبده مې وليدله چې له سپينو مرواريدو څخه جوړه شوې وه چې په څلورو ستنو په څلورو کنجو ولاړه وه او په هغې کې ليکل شوي وو چې ( لااله الله وحده دينه الاسلام و محمداً عبده ورسوله ) دا روايت د هرې اسلامي ودانۍ روحاني نمونه ده. له مراکش څخه د اناتولي تر لويديځ په ترکيه او د البرز او د مازندرانو د شنو درو نه تر هندوکش، سپين غره، هرات، غور اوبلخ زمونږ په گران هېواد کې شتون لري چې د معمارۍ له نظره سره ورته والي لري او د طبيعی چاپيريال د ښکلا وو سره په هره سيمه کې همغږي لري. د اسلامي معمارۍ هنري آثار د مسلمانانو ترمنځ دهمغږۍ نمونه ده. د طبيعی چاپيريال د همغږي سربېره د ودانيو د بېلا بېلو برخو ښکلا وې هم سره ورته والي لري. تاريخي ابدات که څه هم د جومات په د ننه او يا باندنی برخه کې وي او يا په کوم شخصي کور کې وي، په هغوی

انځور د صفويانو په دوره کې په اصفان کې يو لوی اوښکلی ...رمات چې لرې ليدل کېږي.

(۱ انځور)






( ۲ انځور )



( ۳انځور ) د ترکیې د استا نبول په جومات کې لویه مرکزي ګنبده



( ٤ انځور ) د دریمې هجري پیړۍ په سر کې د اسلامي نړۍ د عراق د سامرا لوی جومات چې مناری یې پنځوس متره لوړوالی لري.

کې د ارامتیا او همغږۍ قانون حاکم دی.

د ودانۍ ټینګښت او تعادل په متقارنو طرحو ( له دواړو خواو نه یو شان نسبت هغه محورته چې په منځنۍ برخه کې دی)، لکه: د یو ې ګنبدې ښي او چپ اړخونه چې سره یوشانته دي) جوړ شوي دي او د ودانۍ د فضا طراحي داسې شوې ده چې انسان ته ارامتیا او تعادل وربخښي.

اسلامي ښارجوړونه، کورونه، جادې، بازارونه او دښاري ژوندانه نورې اجزاوې داسې طراحي کیدې چې له طبیعي عواملو څخه ډیر زیات کار واخیستل شي. د مثال په توګه په ښاري اسلامي معماری او ودانیو کې له نور او رڼا څخه ګټه اخیستنه داسې وه چې له یوې خواپې انسان د پاک خدای په فکر کې اچوو او له بلې خوا د طبیعي روښنایي وسیله او د ودانۍ د تودخې منبع وه. د اسلامي معمارۍ هنري آثار په دوو ډلو ویشل کېږي:

۱- معماري، مذهبي ودانۍ، لکه: جومات، مدرسې او قبرونه او ....

۲- د نورو ودانیو معماري، لکه: کور، مانۍ، باغونه، کاروان سرایونه، حمامونه، بازارونه، پلونه او ....

د اسلامي معمارۍ ډیرې مهمې نمونې جوماتونه دي.

مسلمانانو د جوماتونو د جوړولو د ښکلا لپاره چې د لوی خدای(ج) د سجدې او



(c) ketabton.com: The Digital Library


عبادت ځای دی د قرآنکریم له آیتونو څخه په ډېره ښکلې بڼه د ډېر دقیق هندسي تناسب له لیکلوڅخه ګټه اخیستله. د جومات د ودانۍ نقشه په ټوله اسلامي نړۍ کې یو شان ده سربېره پر هغې جزییات او ښکلاوې یې هم یو شانته دي.

د جومات د ودانۍ ټول بعدونه له دایرې څخه لاس ته راځي. کله چې د جومات چت جوړشي، نو په هغې باندې ګنبده جوړېږي. ګنبده په بېلو بېلو شکلونو جوړېږي چې ډېرې مشهورې یې له منحني خطوڅخه چې نیمې کرې ته ورته والی لري، جوړې شوي دي.


په جوماتونو سربېره ګنبدې په زیارتونو هم راوج درلود. په زیارتو جوماتونو کې منارې د ګنبدو په څنګ کې جوړېدې چې د منارو منځ به مارپیچي و او اذان کوونکي به د منار پورتنۍ برخې ته پورته کیدل او اذان به یې کولو چې ټولوخلکو به هغه اوریده.

په اسلامي نړۍ کې د منارو ښکلاوو ځانګړې بڼه درلوده په لومړي سرکې منارې د مکعب په شکل جوړیدې، خو وروسته یې د استوانې شکل رواج موند. د منارو د ښکلا لپاره په بېلا بېلو اسلامي هېوادونو کې له بېلو بېلو روشونو او طریقو څخه کار اخیستل شوی دی.

چې دا ښکلا وې دګنبدې له ښکلا وو رامنځته کېدې. د جومات په د ننه کې فضا داسې طراحي کیدله چې د لوی خدای(ج) عظمت په ټولو برخو او د انسان په احساس باندې اغیزه وکړي. دګنبدې په داخلي برخه کې د قرآنکریم آیتونه نقشونه او ښکلا وې د دیوالونو تر مرکزي نقطې پورې لیدل کېږي. په دې ټولو کې د محراب ښکلا ځانګړې ارزښت لري.




(۵ تصویر) په مراکش کې دکتوبیه دجومات مناره چې د (موحدون) په دوره کې پای ته ورسیده



(٦ انځور) د هند په آګرا کې د (اعتمادوله) د قبرمنارې چې په ۱۵ هـ ش پېړی کې جوړې شوي دي.




(c) ketabton.com: The Digital Library



(۷ انځور) د اصفهان د جامع جومات محراب په ۷۱۰ هـ ق کال کې.



(۸ انځور) په مراکش کې د (بن لوسف مدرسې محراب په لسمه پېړۍ کې.



(۹ انځور) د ترکيې په استانبول کې د (سوکولو) جومات محراب او منبر په لسمه هجري پېړۍ کې.



(۱۰ نځور) د مصر په قاهره کې د (مؤيد) د جومات منبر.

محراب د قبلې لورى ښيي او ټول مسلمانان د لمانځه پر مهال محراب ته مخامخ درېږي. له دې امله په هر جومات کې محراب ته ډېرې ښکلې ښکلاوې ورکوي.

په زياتره جوماتونو کې د محراب ترڅنګ منبرونه د جماعت د امام لپاره جوړ شوي دي چې د وعظ په وخت کې وليدل شي او غږ يې واوريدل شي. د وخت په تيريدو سره کله چې منبرونه له لرګي څخه جوړ شول په ټولو اسلامي هېوادو کې يې رواج وموند.

د منبرونو په طراحي او ښکلا کې ډېر توپيرونه ليدل کيدل خو په کلي ډول هر څومره چې د مسلمانانو هنري ذوق په بېلا بېلو اسلامي هېوادونو کې د معمارۍ بېل بېل سبکونه منځ ته راوړي وو، خو له روحاني فضا سره يې ډېر ژور اوګډپيوند درلود. دا جوماتونه په هسپانيه کې د قرطبه جومات په ايران کې د اصفهان جومات، د هرات جامع جومات، دهند جومات او په نورو اسلامي هېوادونو کې جامع جوماتونه له يو اوبل سره په اړيکه کې جوړشوي دي.



**تمرين:**

۱- زموږ په ګران هېواد کې کوم لوی جوماتونه وجود لري؟

۲- د دې جوماتونو ښکلا وې څه ډول دي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۴




# له اسلامي سبک څخه پر استفادې (پُل) جوړول

## ایا کوم لرغونی پل مولیدلی دی ؟

پلونه له اوبو څخه د تیریدو لپاره جوړیږي. که یو اورږد او پنډ لرگی د اوبو په سر کېږدو، د پلونو له ډلې څخه شمېرل کېږي.

انسانانو تر اوسه ډېر زيات پلونه په بېلو بېلو شکلونو له اوبو څخه د تیریدو لپاره جوړ کړي دي. پلونه د اسلامي معماری یو ه په زړه پورې نمونه ده . د دې پلونو محکمتیا، ظرافت او ښکلا د دې سبب شوې ده چې له سلگونو کالو وروسته هم جوړ پاتې شي.

آیا ستاسې په چاپیریال کې لرغوني پلونه شته؟ هغه پلونه چې ستاسې په چاپیریال کې موجود دي، هغې ته په ځیر او دقت سره وگورئ. تاسې هم کولی شئ چې یو پُل لومړی




(۱ انځور) د پُل بیاتي شوی برخې



(۲ انځور) د پُل مختلفې برخې سره نښلوي.

په یو پنډ یا مقوا کاغذ باندې انځوروئ. وروسته د انځور اضافي برخې بیاتې کړئ چې د پُل یو دیوال جوړشي. جوړشوی دیوال په بل پنډ کاغذ کېږدئ او شاوخوایې په پنسل خطونه وباسئ او خطونه په غور سره د بیاتي په واسطه بیاتي کړئ. ترڅو بله کاپي کټه مټه جوړه شي، نو په دې وجه د پل دوه اصلي دیوالونه جوړېږي. د سر پوښلو لپاره له یوه نازک کاغذ څخه کار واخلئ او اوږدوالی یې د پُل د دیوال په اندازه او پلنوالی یې د پُل د عرض په اندازه ونیسـئ او کاغذ او اضافي برخې یې بیاتې کړئ. د پُل یو سر پوښ په دیوالو باندې په سریښو ونښلوئ، ترڅو ستاسې لاسي کار جوړشي او هم کولی شئ چې جوړ شوی پُل په ډبل مقوایي کاغذ ونښلوئ او د خپلې خوښې په رنګو یې رنګه کړئ. که غواړئ پُل ته نوره ښکلا ورکړئ، نو وړې ډبرې، پاڼې او ښاخونه ورپورې ونښلوئ او د پُل لاندینۍ برخه د اوبو په رنګ رنګه کړئ.



(۳ انځور) د پله لاسي کار

**تمرین:**
له ډبل او نازک کاغذ څخه په ګټه اخیستنه یو ښکلی پُل جوړ کړئ.




(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۵

# له اسلامي هنرونو سره اشنايي

(۱ انځور) د ښکلی بسم الله الرحمن الرحيم تذهيب



حضرت رسول الله (ص) فرمايلي دي:

(( ان الله کتب الاحسان علي کل شیءٍ)) بی له شکه الله (ج) ښيگڼې او ښه والی ته لازمه پاملرنه کړې ده.

په اسلامي تفکر کې هنر د موادو او شيانو د ښکلا وو يوه طريقه ده. هر شی هم ځرگند او هم پټه ښه لري چې مسلمان هنرمند بايد د هغې په هکله دقيق فکر وکړي. له ډېروښو تناسبونو څخه په طراحي او د ظرافت په جوړيدو کې گټه واخلي او د هر شي په جوړيدو کې مادي عالم له روحي عالم سره پيوند کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اسلامي هنر کې ښکلا او ګټه دا دوه مهم صفتونه د وسیلو او د ډول ډول هنري آثارو د شیانو د بیانولو لپاره دي. له دې امله د اسلامي هېوادونو په هنري آثارو کې یووالی څرګندېږي چې له دوی دجغرافیایي پولو څخه اوړي.

اسلامي هنر د بېلو بېلو ښکلو او ظریفو لوښو جوړېدنه منځ ته راوړه چې ډېر زرېې نړیوال شهرت وموند.



(٤ انځور) په دولسمه هجري پېړۍ کې په هندکې د څرمنې څلور ټوټې چې په طلایي نقشونو ښکلي کړل شوي دي (د جیوتانا)

په دې اثارو کې ټولې سطحې په نقشونو او اسلامي خطونو باندې پوښل شوي دي چې په لومړیو وختوکې د قرآنکریم دآیتونو لپاره کاریدې او د وخت په تیریدو د تذهیب په نوم یاد شو چې په کاشي کاریو او قالین اوبدلوکې ترې ګټه واخیستل شوه او د شیانو دسطحو د ښکلا لپاره په بېلو بېلو هنرونو کې، لکه: فلزکاري، کلالي، لرګي کیندنه، شبکه کاري، د تیږو په تراشلو، په تیږه خطاطي، او ګنډلو کې ترې ګټه اخیستل شوې ده.




(c) ketabton.com: The Digital Library


ټولې سطحې دوې برخې لري چې یو یې حاشیه او بل متن دی. هر یوه سطحه په بېلو بېلو ډیزاینونو، لیکنو، ښکلي لیک او یا د حسن خط او انځورگری په ترکیبي بڼه جوړې شوې دي.

مرکزي ډیزاینونه د دایرې په شکل طراحي کېږي چې په ښکلیو انځورونو جوړېږي، او د اصلي سطحې د هرو څلور برخو $\frac{1}{4}$ تکرارېږي چې دا مرکزي ډیزاین د ( شمشه) یا ( نارنج) په نوم او $\frac{1}{4}$ برخه یې څنډه یا (گوښه) بولي. کله کله څنډه یا شمشه په نورو ښکلیو ډیزاینونو ډکېږي او کله کله متن په یوه تکراري انځورباندې پوښل کېږي او حاشي ته په بل ډیزاین ښکلا ورکوي.


د لوښو په طراحی کې د لوښو د بېلو بېلو برخو لپاره ځانگړي ډیزاینونه کارول کېږي. ختین خاورین لوښي په بېلو بېلو ډولونو جوړېږي چې دهرې برخې د ښکلا لپاره یې بېل بېل ډیزاینونه طراحي کېږي. د لوښي د هرې برخې او د ټولولوښو د ډیزاینونو او خطونو تر منځ یووالی او همغږي ډېر ارزښت لري.



(۳ انځور)شبکه کاري شوی کړکی په اصفهان کې



(٤ انځور) په مزار شریف کې د حضرت علي کرم الله وجهه دمقبرې دروازه



(۵ انځور ) د ایران په ارد بیل کې د ( شاه اسمعیل د قبر لیکنې)

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــه هغو اثاروکې چې ډیزاینونه دحجم په دیوالونو انځوریږي، د لوښــي دځـې، مخ او څنډو اړیکه زیات مهارت ته اړتیا لري.

پــه هغو آثاروکې چې رنــګ کارول کیږي، لکه: ټوکـر اوبدل، قالینې او بدل، کاشــي کاري او .... هنرمند باید د رنګ ترکیب، همغږي او ورته والی رامنځته کړي.



(٦ انځور لعابي پتنوس چې د اسکندر په انځور ښکلی شوی دی ق. م څلورمه پېړۍ.



(۸تصویر) په۱۳۰۰ هجري کال کې د ایران په تبریز کې جوړه شوې قالینه.



(۷ انځور) په لسمه پیړۍ کې د ترکیې په استانبول کې په یوه تبرلیکنې.

**تمرین:**



۱- داسلامي هنری اثار و مهمې ځانګړتیاوې په ګوته کړئ؟

۲- په اسلامي هنرونو کې وحدت او یوالی څه دلیل لري؟

۳- ستاسې په چاپیریال کې کوم اسلامي هنر وجود لري؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۶



# له خټو څخه د قلمدانۍ جوړول

## ایا تراوسه مو دقلمدانۍ د جوړیدو تجربه کړې ده؟

لـه خټـو څخه د قلمدانۍ د جوړیدو لپاره د خټـو د لولو ( فتیلوی) له روش څخه باید ګټه واخلو. په دې روش کې باید خټه د لاسو په وسیله لوله شي.

(۱ انځور) د لوښې لاندنۍ برخه اول لولی جوړې کړې. )



د کار پیل: د لوښي دتلي په جوړولو پیل وکړئ: لومړی د لوښي یا قلمدانۍ تل په هره اندازه چې ستاسې خوښېږي په دایروي بڼه جوړکړئ. وروسته دختهو بوړکی (لولې) د یوه سانتي متر په قطر د قلمدانۍ دتلي په اندازه جوړ کړئ لومړنۍ بوړکي د قلمدانۍ د تلي سره ونښلوئ او بیا د هغې په سر نور بوړکي په ډېر غور او دقت ونښلوي ترڅو د قلم د نیمايي په اندازه جوړ شي چې بڼه یې بشپړه شي. د دې لپاره چې بوړکي له یو بل سره ونښلي بوړکي د لاندینۍ برخې په لوری وتراشئ او کولی شو چې خپلې ګوتې په اوبو لندې کړو او وروسته بوړکیو ته فشار ورکړو، چې یو له بل سره کلک ونښلي. د کار په وروستي پړاو کې هغه باید ښوې شي چې د بوړکیو بڼه معلومه نه شي. د دې لپاره چې ستاسې کار ښکلا پیدا کړي نو هغه په ښکلو ډیزاینونو رنګه کړئ.


(۱ انځور) لمړنی بوړکي په سطح نښلول شوی دی.


(۲ انځور نور بوړکي په سطحه ونښلوي ترڅو قلمدانۍ جوړه شي.


(٤ تصویر) قلمداني په خپله خوښه رنګه کړئ او قلمونه په کې واچوئ.


(۵ انځور) لندې ختې ته په بېلا بېلو وسیلو فشار ورکړی او بېل بېل ډیزاینونه په کې جوړ کړئ.


(٦ انځور) د قلمدانی باندنی برخه ښویه کړئ.



**تمرین:**

د بوړکیو له طریقې څخه په کار اخیستنه یوه ښکلې قلمداني جوړه کړئ او بیا په ښکلیو ډیزاینونو او رنګونو ښکلا ورکړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۷



# له میناتورۍ سره اشنايي

## ولې اسلامي میناتوري نړیوال نوم او شهرت لري؟

د مسلمانانو لومړنۍ انځورګري، دطبیعي علومو دکتابونو تصویري کول وو. وروسته له هغې ورو ورو ادبي کتابونه، په ځانګړې ډول د ستروشاعرانو د شعرونو دیوانونه او د داستانونو ځینې صحنې انځورېزې شوې. غربي محققانو په دې دلیل چې په ډېره کوچنۍ اندازه او ډېر ظرافت یې دا تصویرونه د میناتور په نوم وبلل. مسلمانانو دکتابونو په انځوریز کولو کې دخوییړیو په اوږدوکې ډېر پرمختګ وکړ. دوی د بېلو بېلو رنګونو،تصویرونه، مارپیچي ترکیب بندي او د عقیدتي مفهومو د بیانولو له امله د ښکلا او هنري ارزښت لوړو پوړیوته ورسیدل او نړیوال شهرت یې پیدا کړ.





(۱ انځور) د منابع الحیوان ابن بختیشوع دکتاب یوه پاڼه په اومه هجري قمري پېړۍ کې ( نرزمری او ښځه زمری)

(۲ انځـور) دخواجـوی کرماني دیـوان: د هماو همایون زرم، بغداد ۷۹۹ هـ ق کال.

هغو انځور گرانوچې شعرونه يې انځوريزکول، په شعرونو کې نغښتو عقيدتي مفهومونو ته يې ځانګړې پاملرنه درلوده. لويو شاعرانو، بېل بېل مضمونونه د شعر په ژبه بيانول، انځورگرانو هم له ښکلا او رنگونو څخه په گټه اخيستنه دا شعرونه د تصوير په بڼه انځورول چې د بېلو بېلو مفهومونو او موضوعگانو سره يې ډېره لگوله. له دې امله میناتور، يو ډول خيال ( ذهني) انځور گري ده.


(۳- انځور) (هارون الرشيد) په حمام کې د خمسه نظامي له کتاب څخه د کمال الدين بهزاد اثر هرات، ۹۰۰ هـ..ق.

په میناتور کې له طبيعت څخه پيروي نه کوي، بلکې د شکلو په ساده کولو ، د رنگونو په بدلون ، د بېلو بېلو صحنو تمثيل او د ډول ډول موضوعگانو تصويرونه کارېږي. په دې اثارو کې هنرمندان هغه نرۍ تصويروي چې په هغې کې نقاشي ډېره روښانه ده، ډېر ځليدونکي رنگونه، بې له حجمه شکلونه، زيات ظرافت او ښکلا، گلونه او بوټي په تازه گۍ کې تصوير شوي دي. فضايي ژوره ښودل شوې ده.په تصوير کې هېڅ سيوري نه ليدل کېږي.


( ٤انځور)

ډېرو انځور گرانو د اسلامي میناتور د شکل نيولو او وده ورکولو په هکله ستري ونډې سرته رسولي دي او ځينو تر هغې هم سترې دندې تر سره کړې دي چې د دوی له میناتوريو څخه، نورو الهام اخيسته لکه: ( جنيد السلطان) (کمال الدين بهراد) او سلطان محمد چې د دوی د آثارو نمونې په دی درس کې وينئ.


(۵ انځور)

**تمرين:**

۱- کومې موضوعگانی په دې انځور گريو کې وينئ؟ د نقاشيو په هکله يې پخپلوکې سره وغږيږئ.

۲- په دی تصويرو کې کوم شکلونه او رنگونه وينئ؟ د انځور گرۍ په هنر کې شکلونو او رنگونو ته پاملرنه وکړئ اوپه هکله يې پخپلو کې سره وغږيږئ.

۳- د ( جشن ، او کوچنی اختر) د کارتونو په میناتوريو کې ترکيب بند او مارپيچي حرکتونه پيدا کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۸




# د قرآنکریم د رحل جوړول

## ایا تراوسه مو د قرآنکریم د رحل د جوړولو په هکله فکر کړی دی؟

مسلمانان د قرآن عظیم الشان لپاره چې د خدای(ج) کتاب دی، ښکلي رحیلونه جوړوي.ترڅو د تلاوت په وخت کې قرآنکریم له ځمکې څخه پورته پرې کیښودل شي. د قرآنکریم رحل د دوو لرګیو څخه جوړیږي، چې یو په بل کې اوبدکېږي چې په اسانی سره خلاص او ترل کېږي. د قرآنکریم د تلاوت په وخت کې رحل خلاصوي او له تلاوت څخه وروسته یې ترې او په داسې ځای کې یې ږدي چې کم ځای ونیسي.

تاسې هم کولی شئ چې هغه رحل ته ورته چې هنرمندان یې له لرګي څخه جوړوي له ډبل مقوا کاغذ څخه جوړکړئ. لومړی مقوا کاغذ د مستطیل په بڼه بیاتي کړئ. وروسته د مستطیل اندازه په دوو ورو برخو وویشئ چې






(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه يې ( قرآنکريم دکيښودلو) او بله يې د(پښو) برخه ده، لکه: څنګه چې په شکل کې ښودل شوي دي، مقوا کاغذ د تيرې چړې او يا بياتې په واسطه پرې کړئ. پام مو وي چې د مستطيل عرض تر پايه پورې بياتي نه کړئ چې کوچنۍ برخې نه لويې برخې جلا نه شي. وروسته د پښو يا لاندينۍ برخه کې يې يو عمودي مثلث انځور کړئ او هغه هم بياتي کړئ. ترڅو د رحل پښې محکمې او ښکلې شي. د دې مرحلې ترسرته رسولو وروسته دواړه برخې له بياتي شوي ځای څخه يو په بل کې ننه باسئ.

د دې لپاره چې ستاسې رحل ښکلا پيدا کړي، نو د الله په مقدس نوم او يا په نورو دعاګانو او اسلامي ډيزاينونو ښکلا ورکړئ. دا ډيزاينونه د مقوا کاغذ او رحل په باندنيو ديوالو باندې په تور او سپين ډول او يا رنګه انځور کړئ. د دې کار لپاره د رحل باندينيو ديوالونو په لويو او کوچنيو برخو ښکلې ډيزاينونه انځور کړئ، ترڅو د رحل دواړو باندنيو برخو ته ښکلا ور وبخښي وروسته بيا په خپل رحل کې قرآنکريم کېږدئ او تلاوت يې وکړئ.



**تمرين**:

۱- تراوسه مو د قرآنکريم څو ډوله رحلونه ليدلي دي؟ هغه له کومو موادو څخه جوړ شوی دي؟ ايا د رحل په ديوالونو ښکلاوي دي؟ دا ښکلا وې څه ډول دي؟

۲- د رحلو د ديوالونو ديو ځای کولو لپاره کومې لارې په کاروړو؟

۳- له مقوا کاغذ څخه يو رحل جوړ کړئ او په خپله خوښه ښکلا يې ديوالونه ډيزاين کاري کړئ او د خپلې خوښې په طريقه يې ديوالونو سره ونښلوئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ۱۹

## له افغاني هنرمندانو سره اشنا کېدل

**له افغاني هنرمندانو څخه کوم کسان پېژنئ؟**
**هر یو د هنر په کومو څانګو کې فعالیت کوي؟**

### استاد محمد سعید مشعل:

حاجي محمد سعید ( مشعل) د محمود( غوري) زوی په کال ۱۲۹۵ هـ ش کال کې د غور ولایت د(تیوره) په کلي کې وزېږېد.



استاد مشعل په یوه هنر پالونکې کورنۍ کې لوی شوی و. د ځوانۍ په وختوکې یې هنري کاروته پام ور واوښت. هڅه یې وکړه چې د استاد کمال الدین بهزاد مکتب را ژوندی کړي.

استاد له میناتور څخه پرته د حاشیو په ښکلا (تذهیب) کې د ډېرو تکړه هنرمندانو په ډله کې شمېرل شوی دی.

استاد په میناتورۍ کې نوښت رامنځ ته کړ ځکه چې ده ځانګړې لاره او روش درلود او د استاد کمال الدین بهزاد د مکتب له پیروانو څخه حسابیږي. استاد

ډېرو شاګردانو ته هنري زده کړه ور په برخه کړي ده او ستر هنري خدمتونه يې سرته رسولي دي.استاد مشعل په ۱۳۷۶ هـ. ش کال کې د دلوې د مياشتې په لسمه نيټه له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې او د ابدي ژوندانه په لور روان شو. د ده ځينې اثار د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په ملي ګالرۍ، دولتي تالارونو او د خلکو په کورونو کې ساتل کېږي.

استاد عزيز الدين وکيلي پوپلزای:



استاد په ۱۲۹۷ هـ .ش کال د سنبلې د مياشتې په ۱۶مه نيټه د کابل په چهاردهي کې وزيږيد. نوموړی له دې امله په ( اووه قلمي) خطاط باندې مشهور دی چې په خط کې نوښتکاريو، نقاشۍ او انځور ګرۍ کې د ګران افغانستان له نوميالیو هنرمندانو څخه و. ده د کار په ښکلا او ظرافت کې ساری نه درلود، همدارنګه د استاد وکيلي د تابلوګانو په حاشيو او متنونو کې ډېرې مهمې افغاني هنری پديدی ترسترګو کېږي. استاد وکيلي په هنري کارونو سربېره د خطاطی د هنر او تاريخي پيښو په هکله زيات کتابونه ليکلي دي. استاد د ۱۳۷۶ هـ.ش کال په لومړنيو مياشتو کې له دې نړۍ څخه سترګی پټې کړې.روح دې ښاد وي.

**تمرين:**

تاسې پخپلو ولايتونو کې هنرمندان پيژنئ؟ د هغوی د مهمو آثارو نوم واخلئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۰

# له افغاني هنرونو سره اشنا کيدل




**د قالينې څټ ته په ځير سره وګورئ او ووينئ چې د هغې تار او پود د ګنډې په وسيله څه ډول سره نښلول شوي دي؟**

**دقالينی پر مخ څه شی وينئ؟ د قالينې رنګين ډيزاينونه څه ډول په پر له پسې ګنډو رامنځته شوي دي؟**

کله چې په قالينی کښينئ او يا پر هغې باندې لمونځ کوئ څه احساس درته پيدا کېږي؟ د هنر لومړی ځانګې په افغانستان کې زرګونه کلونه لرغونتيا لري.

کـه څـه هم د هنري آثار و توليد د انســانانو د اړتيا وو دليرې کولو ســر چينه ده، دقيقــه طراحــي، د بېلو بېلو ډيزاينونو کارول، د دې هېواد د هنرمندانو د بېلا بېلو




(c) ketabton.com: The Digital Library


نسلونو ذوق د تاريخ په اوږدوکې څرګندوي د خلکو هنري مينه تکواو پارچوته رنګ او ډيزاينونه وربخښي، ښکلي او نرم فرشونه اوبي، ودانيو ته د قرآنکريم په مبارکو آياتونو ښکلا ورکوي، سفالي او فلزي لوښي په ظرافت سره ښکلي کوي، دروازو، منبرونو او د لرګي رحلونو ته ښکلا ورکوي، کاري لوښي ښکلي کوي، ترڅو انسان هره شيبه د ظرافت او ښکلا سره اړيکې ولري، نوهغو ته يې ښکلا او ډيزاينونه ورکړي دي، نن هم د پوستينو جوړول، د سراميکي (کلالي) لوښو جوړول، د ښکلا غاليو او بدل او ..... د هېواد په مختلفو سيمو کې دوام لري.







(c) ketabton.com: The Digital Library



او ډېر وګړي د دغه صنايعو په جوړولګيا دي. ځومره چې د تاريخي هنري آثاروساتنه ډېر ارزښت لري، همدارنګه د ډيزاينونو، بېلا بېلو هنرونو د جوړولو، کارولو او د ښکلاووطريقو او روښونو انتقال وروستيو نسلونو ته ډېره زياته اړتيا ده.

د لاسي صنايعو توليد سربېره پر هنري او فرهنګي اړخونو داخلي او باندنيو بازارونو ته د هغو عرضه کول د اقتصاد له پلوه زيات ارزښت لري. د افغانستان په نقشه کې د لاسي صنايعو او بېلو بېلو هنرونو عمده مرکزونو ته پاملرنه وکړئ. د افغانستان په بېلو بېلو ښارونو کې خلك په بېلابېلو هنرونو بوخت دي او بېل بېل لاسي صنايع توليدوي. د مثال په توګه په کابل ښار کې د معمارۍ، بخارۍ جوړونه، پښګري. فلزکاري، مسګري، زرګري، کندنکاري، د مريو ګنډل، د ټوکرو او بدل، دتيږو تراشل ، کلالي، نقاشي، د غاليواو بدل، خامك ګنډل وجود لري. په نورو ښاروکې د ټوکر او بدلو، وريښم او بدلو، شال او بدلو، دګلدوزۍ بېل بېل ډولونه شته ټوکريا رخت ته ښکلا ورکول، لکه: د مريوګنډل، خامك ګنډنه، له ختې ځخه د سفالي لوښو جوړيدل، کلالي، د لاجور دو د غميو جوړيدل او ډېرينو لوښو د جوړيدو هنرونه ادامه لري. چې يو له هغو ځخه په هرات کې ښيښه جوړيدنه ده چې د ځانګړې ظرافت درلوودنکي ده. د ماتو او بېکاره ښيښو ويلي کولو ځخه وروسته رنګونه ور سره ترکيب کوي چې ميرمنې او نارينه کله ګډ او کله هم



(c) ketabton.com: The Digital Library



بېل بېل په دې کارونو بوخت دي.
او په بيلو بيلو شکلونو گيلاسونه او ښکلي لوښي د لاس او اور په واسطه توليد وي چې د امريکا او اورپا بازارونو ته يې لار پرانيستې ده که څه هم دا اثار د افغانستان په بېلا بېلو ښارونو کې ليدل کېږي چې د ټولو سيمو په اثاروکې ورته والی شته دی. د ډيزاينونو، رنگونو او جوړولو طريقې او روشونه يې بېل دي.د هرې سيمې د هنرمندانو ذوق او ابتکار د دې سبب کېږي چې د ډيزاينونو او ثارو جوړول بېلې ځانگړتياوې پيدا کړي. هغه بدلونونه چې هنرمندانو د تاريخ په بېلو بېلو دوروکې په هنري آثاروکې رامنځ ته کړي دي، د هنر د مختلفو څانگو د ودې او تحول سبب شوي دي. د همدې تحول له امله ده چې نن د لاسي صنايعو څانگې لوړو پوړيو ته رسيدلي دي چې ډېر ارزښتناک اثار توليديږي، لکه: د استالف کلالي( سراميک) چې د افغانستان د ډېرو مشهورو کلاليو څخه ده چې په بېلو بېلو ښارونو کې يې د خرڅلاو بازارونه تاوده دي.



**تمرين**:

۱- ستاسې په سيمه کې کوم لاسي صنايع شته دي؟
۲- تاسې د هنرونو کومې څانگې سره اشنا ياست؟
۳- له کوم افغاني هنر سره مينه او علاقه لرئ؟
٤- ايا دهنر د خپلې خوښې څانگې لپاره نوې نظريه وړاندې کولی شئ؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۲۱ دافغانستان له ملي موزيمونو سره اشنا کيدل

## د مزارشريف موزيم:

د مزارشريف موزيم اوږده مخينه او لرغونتيا لري. له هغه وخت څخه چې د حضرت علي کرم الله وجهه مقبرې ته پادشاه هانو سوغاتونه ورکول، د دې موزيم د جوړيدو سبب شو دا تحفی او هديې د روضې په يوه ځانګړې کوټه کې ساتل کيدې. د مزار موزيم سربېره پر قيمتي ډاليو، د مسکوکاتو او نه پيدا کيدونکو کتابونو په ځانګړې ډول د خطي نسخو کتابونه چې د هغې له ډلې څخه د قرآن عظيم الشان نسخې د قرآنکريم ځينې تفسيرونه چې له زيات ارزښت څخه برخمن دي. پخپله مبارکه روضه د معمارۍ د هنر يو لرغونی سبک دی. چې په مبارکو آياتونو ښکلی شوی دی. دا مبارکه روضه يوه تاريخي لرغونی وداني ده. په دې موزيمو سربېره زموږ په ګران هېواد کې شخصي موزيمونه هم شتون لري د نمونې په ډول سلطاني موزيم د يادولو وړلری.

## د هرات موزيم:

په ۱۳۰۲ هـ.ش يا ۱۳۰٤ هـ. ش کال کې د هرات موزيم تاسيس شو او په۱۳۱۰ هـ .ش کال کې د هرات د ښار ښاروالۍ ته وسپارل شو او په ۱۳۱۲ هـ. ش کال د هرات د ښاروالۍ د مقام په حکم د پارك هوټل ودانۍ ته وليږدول شو. په هغې کې چې کوم آثار موجودوو هغه د خلکو ننداريې ته ايښودل شوي وو. اکثره اثار يې د ښاروالۍ له بودجې څخه اخيستل شوي دي هغه اثار چې په هډه او بګرام کې د کيندنو په نتيجه کې لاس ته راغلي وو، د کابل د موزيم لخوا دسوغات او ډالۍ په ډول په ۱۳۲۵ هـ .ش کال دهرات موزيم ته سپارل شوي دي.

## د ميمنې موزيم:

د ميمنې د ښار په يوه تاريخي غونډۍ کې د ناڅاپي کشفياتو په نتيجه کې د غوريانو د دورې مسي سکې په لاس راغلي چې په ۱۳۳۵ هـ.ش کال کې يې د ميمنې د موزيم د جوړيدو زمينه برابره کړه، ترڅو په هغې کې لرغوني اثار او شيان وساتل شي، د ميمنې د موزيم د مديرانو په هلو ځلو په کم وخت کې د ډېرو لرغونو او قديمي اثارو څخه برخمن شو او ننداره يې په ۱۳۳٦ هـ .ش کال کې پيل شوه دا ننداريې دومره په زړه پورې وې چې دميمنې خلکو خپل قيمتي او تاريخي آثارد تحفې او ډالۍ په ډول دې موزيم ته ورکړل.

## دمنابعوفهرست


۱- غلام محی الدین شبنم، د ځوانانو او نويو ځوانانو د نقاشۍ د لوستلو لاربښود ۱۳۸۰ کال
۲- د هنر د لوست لاربښود لومړيو، دويمو او دريمو ټولګيو د ښوونکو لپاره کود نمبر ٤/٥٣، ۱۳۸٥
۳- د تجسمي هنرونو اصول، دکتور محمد حسين حليمي.
٤- د تجسمي هنرونو اصول، فني او حرفوي کوډ ۲۱/ ۳٥۸، ۱۳۸٦ هـ.ش.
٥- دتجسمي هنرونو سره اشنا کيدل کوډ ۳۷/۳٥۸، ۱۳۸٤ هـ.ش.
٦- فني طراحې ۱، جلد فني اوحرفوي کوډ ۹۲/ ۳٥۹، ۱۳۸۱ هـ.ش.
۷- هندسي نقشونه ۱،جلد فني او حرفوي کوډ ٤۸٥، ۱۳۸٤ هـ.ش.
۸- د محلي انځورګرۍ کارګاه فني او حرفوي کوډ ۷۷/ ۳٥۹، ۱۳۸٦ هـ.ش.
۹- د لاسي چاپ کارګاه فني او حرفوي کوډ ۲۰/ ۳٥۸، ۱۳۸٤ هـ .ش.
۱۰- د ايران د کاشي کاريو په هنر مقدمه محمد يوسف کياني، فاطمه کريمي او عبد الله قوچاني و رضا عباس موزيم ۱۳٦۲ هـ.ش.
۱۱- د هنر دايره المعارف، روئيس پاکبار، د معاصر فرهنګ انتشارت.
۱۲- اسلامي هنر ارنست کونل.
۱۳- اسلامي هنر ژبه او بيان، تيوس بوکهارت.
۱٤ د ايران د لاسي صنايعوسره اشنا کيدل، ۱ جلد فني او حرفوي کوډ ۳۰/۳٥۹، ۱۳۷۸، هـ.ش.
۱٥- د ايران د لاسي صنايعو په لور، د احمد لارام په اهتمام. د ايران د تهران د ملي بانک. انتشارت ۱۳٥٦ هـ.ش.
۱٦- علم په اسلام کې، د احمد لارام په اهتمام د تهران د سروش انتشارت ۱۳٦٦ هـ.ش.
۱۷- د خوشنو يسۍ هنر اول او دويم جلد، کوډ ٥/ ۲۰٤.
۱۸- د خط ښکلا په اسلامي فرهنګ کې، ان ماري شيمل د قدس ولايت انتشارت.
۱۹- د خط تاريخ او د افغانستان پخوانۍ ليکنې عبدالحي حبيبي.
۲۰- د ايران نقاشي، بازيل ګري د تهران د نوي عصر انتشارت ۱۳٦۹ هـ.ش.
۲۱- د ايران د نقاشي هنرته کتنه، ډکتر اکبر تجويدي. د فرهنګ او اسلامي ارشاد انتشارت تهران ۱۳۷٥ هـ.ش.
۲۲- د هنر کارګاه ۱ جلد د پوهنځۍ نه مخکې کوډ ٥۹٤، ۱۳۸۷ هـ.ش.
۲۳- د هنرسير په تاريخ ۲ جلد. د پوهنځۍ نه مخکې کوډ ۸/ ٥۹٤ ۱۳۸٦ هـ.ش.
۲٤- د افغانستان د تاريخ فشرده، فاروق انصاري، دمطالعاتو مرکزکابل ۱۳۸٦ هـ.ش.
۲٥- موزيم پيژندنه او د موزيمونو سير په افغانستان کې، د ائنوګرامی ديپارتمنت او باستان پيژندنه د اجتماعي علومو پوهنځۍ، د کابل پوهنتون پوهندوی محمد رسول باوري کابل ۱۳۷٥ هـ.ش.




(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**